PASHTO

## د ایریز والدین پورټال
## مکرر پوښتل کیدونکي پوښتنې (FAQs)


**د ایریز والدین پورټال څه شی دی؟**
د ایریز والدین پورټال یو ویب سایټ او اپ دی چیرې چې کورنۍ کولی شي د خپلو زده کونکو دندې او درجې یا نمرې تعقیب کړي، د هغوی د ښوونځي/ښوونځي څخه معلومات لاسته راوړي، د هغوی زده کونکو ته پیغامونه ولیږي، او د اړیکې معلومات اپډیټ کړي.

**زه څنګه د والدین پورټال حساب جوړ کړم؟**
په دوسیه کې خپل د بریښنالیک آدرس اپډیټ کولو او د والدین پورټال ته د لاسرسي غوښتنې لپاره خپل ښوونځي سره اړیکه ونیسئ. د خپل ښوونځي ویب پاڼې موندلو لپاره د ټوین رایورز یونیفایډ ښوونځیو نوملړ [https://bit.ly/TRUSDSchools] ته لیدنه وکړئ، د نورې مرستې لپاره د کارمندانو د اړیکې معلوماتو (د تلیفون شمیرې او بریښنالیک) لپاره د کارمندانو نوملړ باندې کلیک وکړئ.

**زه څنګه د ایریز والدین پورټال ته لاسرسی ولرم؟**
د ولسوالۍ د ایریز والدین پورټال لنک [https://parent.twinriversusd.org] ته د ورتګ له لارې یا ستاسې ښوونځي ویب سایټ په سر کې د ایریز والدین/زده کونکي پورټال لنک باندې کلیک کولو له لارې:




تاسې همدا رنګه کولی شئ د موبایل اپ ډاونلوډ کړئ [iOS / ګوګل پلی]، او د خپل زده کونکي ښوونځی انتخاب کړئ.




تاسې کولی شئ خپل د ژبې ترجیحات انتخاب کړئ چې ایریز یې خپل اپ کې وړاندې کوي.

**که زما خپل پاسورډ له یاده ووځي نو څه کیږي؟ زه څنګه خپل پاسورډ بدل کړم؟**
د ننوتلو پاڼه کې د "Forgot Password?" لنک باندې کلیک وکړئ. کله چې ننوتلئ، د پاسورډ بدلولو انتخابونو باندې کلیک وکړئ.

**آیا د والدین پورټال حساب جوړولو لپاره زه بریښنالیک آدرس ته اړتیا لرم؟**
هو، والدین د پورټال حساب جوړولو لپاره معتبر بریښنالیک آدرس ته اړتیا لري. که تاسې یې نلرئ، نو لکه د ګوګل او یاهو په څیر ډیری شرکتونه دي چې د ویب – پربنسټ وړیا بریښنالیکونه وړاندې کوي.

**که چیرې زه د ټوین رایورز یونیفایډ ښوونځي ولسوالۍ کې نوی یم، نو آیا زه اړ یم د والدین پورټال حساب جوړولو نه مخکې خپل زده کونکی راجستر کړم؟**
هو، مخکې لدې چې وکولی شي د والدین پورټال حساب جوړ کړي ستاسې زده کونکی باید په یوه ښوونځي کې راجستر وي. کله چې راجستر شوئ ستاسې د ښوونځي اداري کارمندان باید تاسې سره د حساب جوړولو لپاره اړین معلوماتو په برخه کې مرسته وکړي.

---


*د ټرسډ اپس پورټال، ګوګل ټولګي، د ایریز والدین پورټال، او د زده کونکو کروم بوک په اړه معلوماتو لپاره د کورنیو لپاره د لیږ لارې زده کړې ویب پاڼې [http://www.bit.ly/TwinRiversFamilies] ته لیدنه وکړئ.*

**که چیرې په ولسوالۍ کې زما له یو نه ډیر ماشومان داخل وي نو آیا زه څو حسابونو جوړولو ته اړتیا لرم؟**
نه، تاسې یوازې یو ځل د والدین پورتال حساب جوړولو ته اړتیا لرئ. خپل د پورتال حساب ته ننوځئ، او د سکرین پورته ښي اړخ کې تاسې د بل زده کونکي وراضافه کولو انتخاب لرئ. په "Add Additional Student" کلیک وکړئ او په سکرین کې لارښوونې تعقیب کړئ. کله چې مکمل شي، تاسې بیا کولی شئ د دغو ترمینځ انتخاب وکړئ.

**آیا والدین/سرپرست له ډلې څخه د یوه نه ډیر یعني دواړه والدین یا سرپرستان کولی شي د زده کونکي ډیټا ته لاسرسي لپاره حساب ولري؟ د مثال په توګه، والدین طلاق شوي دي.**
هو، تر هغه پورې چې هغوی خپل جلا د بریښنالیک آدرسونه کاروي، د یوه نه ډیر یعني دواړه والدین یا سرپرستان کولی شي د والدین پورتال حساب ولري.

**آیا والدین/سرپرستان اړ دي هر کال نوی حساب جوړ کړي؟**
نه. دا یو ځلي پروسه ده. که تاسې بل ماشوم ولرئ چې په ولسوالۍ کې داخلیږي (د مثال په توګه د وړکتون زده کونکی)، نو تاسې به وکولی شي چې هغه خپل موجود حساب کې وراضافه کړئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې تاسې به د هر تعلیمي کال په پیل کې د خپل حساب لپاره د ډیټا د تایید پروسه بشپړوئ.

**که زه د تایید کوډ ونلرم نو څه وکړم؟**
د ښوونځي د دفتر کارمندان به ستاسې شناخت تایید کړي او ستاسې د بریښنالیک آدرس به د زده کونکي ریکارډ ته وراضافه کړي. بیا به تاسې یو بریښنالیک ترلاسه کړئ چې د ننوتلو څرنګوالي په اړه یې معلومات وي (د نوي حسابونو لپاره)، یا تاسې ته خبر درکونکی بریښنالیک چې ستاسې د پورتال حساب کې بدلون راوړل شو (د موجود حسابونو لپاره). بل وار چې تاسې خپل حساب ته ننوځئ نوموړی زده کونکی به ستاسې حساب کې موجود وي (د VPC کوډ ته اړتیا نشته).




**زه یوڅه نورې مرستې ته اړتیا لرم، د چا سره اړیکه ونیسم؟**
هغه والدین او سرپرستان چې د حساب تفصیلاتو سره بریښنالیک یې ندی ترلاسه کړی کولی شي په Stu.Service@twinriversusd.org د بریښنالیک له لارې د **ټرسډ زده کونکي خدماتو ملاتړ لیکې** سره اړیکه نیولو له لارې حساب جوړولو کې مرسته ترلاسه کړي.

د هغه کورنیو لپاره چې حساب لري او حساب ته ننوتلو یا د وسیلې کارولو کې ستونزو سره مخ کیږي، تاسې کولی شئ په TechSupport@twinriversusd.org د بریښنالیک له لارې د **ټرسډ آي.ټي مرستې ډیسک** ته لاسرسی ومومئ یا دوشنبه – جمعه د سهار 7 نه تر ماښام 5 بجو پورې په **(916) 566-7802** شمیره هغوی ته تلیفون وکړئ. مهرباني وکړئ په یاد ولرئ چې ممکن د ښوونځیو تر پیل پورې یې ځینې بڼې موجود نه وي.

*د ټرسډ ایپس پورټال، ګوګل ټولګي، د ایریز والدین پورټال، او د زده کونکو کروم بوک په اړه معلوماتو لپاره د کورنیو لپاره د لیرې لارې زده کړې ویب پاڼې [http://www.bit.ly/TwinRiversFamilies] ته لیدنه وکړئ.*